په **افغانستان**
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca



# د کاناډا ونډه: ۲۰۱۱ - ۲۰۱۴

## د افغانانو لپاره د یوې ښې راتلونکې جوړول



کاناډا به د افغانانو سره یو ځای کار وکړي تر څو د هغو سره د یوې ښې راتلونکې په جوړولو کې مرسته وکړي.

© افسانه (هنداره)

د ۲۰۱۰ کال د نوامبر په میاشت کې د کاناډا هېواد تر ۲۰۱۴ کاله پورې په افغانستان کې د خپلې نوې ونډې او دوامدارې ښکېلتیا په اړه اعلان وکړ.

د کاناډا هېواد موخه داده تر څو د افغانانو سره مرسته وکړي چې خپل هېواد داسې بیاودان کړي چې د ښې حکومتدارۍ درلودونکی وي، ښه ثبات او امنیت ولري او بیا هیڅکله د ترهګرو په پنځای بدل نشي.

د هغو سترو لاس ته راوړنو په دوام چې تر دې دمه د امنیت، د بشر د حقونو د تأمین او ودې په برخو کې ترلاسه شوي، د کاناډا هېواد هلې ځلې په افغانستان کې د اوس نه تر ۲۰۱۴ کاله پورې په څلورو مهمو موضوع ګانو باندې تمرکز کوي:

- د افغانستان د ماشومانو او ځوانانو لپاره د پوهنې او روغتیا په برخه کې په پر مختیایي پروګرامونو کې پانګونه او د افغانانو په خاصه توګه ښځو او ماشومانو د ژوندانه ښه کېدل.
- د امنیت ټینګښت، د قانون واکمنۍ او د بشري حقونو پراختیا، چې پکې د ۹۵۰ پوځي روزونکو او اړونده خدماتي پرسونل او څه د پاسه ۴۵ ملکي پولیسو لېږل شامل دي تر څو د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو سره مرسته او هغو ته روزنه ورکړي.
- د سیمه ایزې دیپلوماسي تشویقول؛ او،
- د بشري مرستو برابرول.

دا د لومړیتوب درلودونکې برخې د ۲۰۰۸ نه تر ۲۰۱۱ پورې د کاناډا هېواد د هڅو او پروګرامونو په دوام ده، چې د افغانستان د پرمختیایي لومړیتوبونو ملاتړ کوي او په مهمو برخو کې چې د افغانستان د راتلونکې لپاره اړین دي پرمختګ ترلاسه کوي. د افغانستان د اړتیاوو په بنسټ، دا لومړیتوبونه په هغو برخو کې په نښه شوي کوم چې د افغانستان په پرمختګ کې د پام وړ ستره ونډه اخلي.

په کابل کې او د هغه نه بهر په ملي پروګرامونو باندې په تمرکز سره، د کاناډا او نړیوالې ټولنې اوږدمهال هدف په افغانستان کې افغانانو ته د امنیت او حکومتدارۍ د مسؤولیتونو سپارل دي.

Government of Canada / Gouvernement du Canada
Canada